بشیر مومن

# اهدابه رفقایم وبه همه شهدای راه رفاه همگانی

**مغرورغاټول**

**په سل هاوګلونه  مي سپارلي خاوروته**
**په سل هاو تنکي غاټول مې سپارلي خاوروته**

**پرهغې کرښې چې لمر وزرې غوړوي**
**په سل هاو د کوترو خيل مې سپارلي خاوروته**

**ای مغرورو بېـــبا کوغرزيو غاټولا نو**
**اوس ما ټول خپل هغه غرور سپارلي خاوروته**

**ای بــارانه را وُره وه يو څو څاڅکي**
**پرهغو لوړو چې ياران مې سپارلي خاوروته**

هره شپه

هره شپه
د آسمان تر څنګه ځم
اود ورېځوتر څنګه کینم
خو څوک نشته
ماته ووایی
هغه ستوري چې ترڅنګ مې ناست ول
سپوږمی چې ماته لاس خوځاوه
اوورږمي چې سندري ويلي
اوس چيرې دي